Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله

LSSAJ

# د فیاض او زرداد د بهرام او ګل اندامي متني او شکلي شننه

پوهندوی مطیع الله روهیال

پښتو څانګه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کندهار پوهنتون

د مسؤل ایمیل ادرس: mrohyal2013@gmail.com

## لنډیز

بهرام شهزاده او ګل اندامه د شرقي فولکلوري ادب په زړه پوري کيسه ده. دا کيسه د شرقي ملتونو په منځ کې مشهوره او د شرق په ډېرو ژبو په نظم او نثر ليکل سوې او ترجمه سوې ده. په پښتو کې د شهزاده بهرام او ګل اندامي د کيسې مختلفي منظومي ترجمې سته. زما د معلوماتو له مخې د دې فولکلوريکي کيسي لس پښتو شکلونه موجود دي، چې ځيني ئې په بشپړه توګه منظوم سوي دي او ځينو ناظمينو او شاعرانو لنډيز کړې دہ. په دې څېړنه کې د يادي کيسې د دوو معتبرو او بشپړو شکلونو، چې يوه ئې فياض په دوولسمه پېړۍ کې ترجمه کړې ده او دوهمه ئې زرداد جنډه خېل د ديارلسمي پېړۍ شاعر نظم کړې ده، متني او شکلي مقايسه/شننه کيږي. د متني پرتلې پر مهال د دواړو متونو بېلابېل اړخونه د متنپوهني د معاصرو روشونو له مخې د توصيفي – تشريحي ميتود پر اساس پرتله او مقايسه سوي دي، ځانګړتياوي او نيمګړتياوي ئې شنل سوي دي. د دې تر څنګ د دواړو منظومو کيسو شکلي خوا هم سره پرتله سوې ده. د شکلي شنني پر مهال د کيسې اصلي ژبه، د ترجمو پيل، کرکټرونه، پېښې، محتوايي کميت او داسي نورو اړخونو ته اشاري سوي دي. د زرداد جنډخېل د کيسې متن د متني اصولو او قواعدو سره موافق برابر سوی دئ خو برعکس د فياض د کيسې تهيه سوی متن کمزوری او نيمګړتياوي لري چې د مناقشې په برخه کې توضيح سوي او پوره بحث پر سوی دئ.

**کليدي کليمې:** بهرام او ګل اندامه، فياض، زرداد، متني او شکلي شننه

ترلاسه سوي: ۱۴۰۳/۱۲/۰۲ منل سوي: ۱۴۰۳/۱۲/۱۲ خپره سوي: ۱۴۰۳/۱۲/۳۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-1-2-26 مخونه (۱۵۱-۱٦۰)

## سريزه

د بهرام او ګل اندامي کيسه د شرق په ملتونو کې ډېره زړه ده، که څه هم ايرانيان دا کيسه د فارسي د شفاهي ادب مولود ګڼي خو ځيني کسان ئې بنياد د هند په پراخه اورشو پوري تړي (هيوادمل، ١٣٦٥). ځينو کسانو د کيسې په بنياد کې د عربي منبع خبره هم کړې ده (بخاري،؟).

په فارسي کي مختلفو شاعرانو نظم کړې ده، تر ټولو زړه ئې د نظامي گنجوي په خمسه کي د (هفت پیکر) په نامه منظومه کیسه ده. څو پېړۍ وروسته د امین الدین صافي په نامه یوه بل شاعر د بهرام و گل اندام په نامه په ۳۰۵۰ بیتونو کي نظم کړه.
کیسه د خپل شهرت له مخي په نورو شرقي ملتونو کي خپره سوه، د پښتو تر څنگ په اردو، پنجابي، بلوڅي، سندي او سرائیکي ژبو کي ئې منظومي ترجمې نظم سوي او چاپ سوي دي (عابد، ۲۰۱۵).

ځینو لیکوالو په پښتو کي د بهرام او گل اندامي منظومي کیسې پنځه ښوولي دي (پتنگ، ۱۳۵۷)، خو زما د معلوماتو له مخي په پښتو کي د بهرام او گل اندامي د کیسې لس ترجمې موجودي دي. په دې کیسو کي ځیني په نیمگړي ډول ترجمه سوي او ځیني د دغو نیمگړو کیسو بشپړوونکي دي. ځینو په لنډیز سره نظم کړي دي او ځینو د ټولي کیسې د ترجمه کولو کوښښ کړی دئ.
هغه ناظمینو چي د بهرام او گل اندامي کیسې ئې نظم کړي دي په دې ډول دي:
فیاض: د دې کیسې تر ټولو لومړی معلوم ناظم دئ. فیاض خپله کیسه د غزل او مثنوي په فورم کي نظم کړې ده، ځینو کسانو چي د فیاض کیسه ټوله مثنوي بللې ده یوه سهوه ده (وگ: هیوادمل، ۱۳۶۵). فیاض د دوولسمي پېړۍ شاعر دئ، د ژوند حالات ئې په دقیق ډول معلوم نه دي، د خپلي منظومي کړي کیسې پر اساس د پښتنو شاعرانو په ټول کي ولاړ دئ، په ځانگړې توگه د پښتو د داستاني منظوم ادب د سر په سړیو کي راځي (حبیبي، ۱۳۹۰).
د فیاض په باب بله د یادوني وړ خبره دا ده چي هنرمند سړی وو، د ساز و سرود تومنه ئې په ختټه کي وه «ښه ساز به ئې هم کاوه» (رښتین، ۱۳۲۵). د فیاض په باب د وروستي روایت په توگه ویلای سو چي د ادب په باریکیو او نزاکتونو ښه پوهېده او هم د مطالعې او معلوماتو خاوند وو (بختانی، ۱۳۵۶).

د فیاض کیسه پادري هیوز په کلید افغاني کي راوړې ده (هیوز، ۱۳۵۶ش). د هیوز پر چاپ سربېره څو واره چاپ سوې ده، ډېر پخوانی چاپ ئې په ۱۲۹۴ق کال په ډهلي کي سوی دئ (پتنگ، ۱۳۵۷)، تر هغه وروسته څو واري د بازاري متن په توگه په پېښور کي چاپ سوې ده. د فیاض د

کیسې انتقادي متن د پېښور پښتو اکاډیمۍ د ارواښاد خیال بخاري په اهتمام او مقدمه خپور کړی دئ.

د بهرام او ګل اندامي دوهم پښتون ناظم زرداد جنډخېل نومېږي. زرداد په قام خویشکی دئ. د ژوند یقیني کلونه ئې معلوم نه دي خو د عیسوي نونسمي پېړۍ په شاعرانو کي راځي (عابد، ۲۰۱۵).
د زرداد جنډه خېل د کیسې انتقادی متن د ښاغلي ډاکټر عبدالله جان عابد له خوا په ۲۰۱۵ع کال چاپ او خپور سو.

د کیسې بل ناظم ابراهیم شاه دئ چي خپله کیسه ئې د (دیو ترابان) په نامه نظم کړې ده. ورپسې د امان ګجراتي کیسه ده. پورته دواړي کیسې د فیاض او زرداد د کیسو بشپړوونکي دي، ځکه واقعات ئې له هغه ځایه پیلېږي پر کوم ځای چي فیاض/زرداد جنډه خېل خپلي کیسې درولي دي.
تر دې وروسته په نوبت سره یاده کیسه نور صاحب روغانیوال، حافظ عظیم، ملا احمدجان، ملا نعمت الله نوشهري، عبدالحکیم او مجیب نومي شاعر نظم کړې ده (عابد، ۲۰۱۵).

د پښتو شفاهي ادب په تحریري تاریخ کي د پښتو ژبې د ځینو فولکلوریکو آثارو د پرتلې او مقایسې څرکونه تر سترګو کېږي، البته دا څرکونه لکه څنګه چي ښایي هغه ډول بشپړ او تشریحي نه دي، مګر بیا هم زموږ د موضوع د شالید په توګه اشاره ورته کېدای سي:
په ۱۳۶۰ش کي د رحمت د لیلی او مجنون منظومه کیسه خپره سوه، د دې کیسې په مقدمه کي د رحمت داوي او سکندر خان ختټک د لیلي و مجنون پرتلیزه شننه سوې ده (هاند، ۱۳۶۰).
په ۱۳۸۵ش د مهین د بکتاش او رابعې کیسه چاپ سوه. د دې کیسې په سریزه کي د مهین د ترجمې او فارسي اصل تر منځ ځیني ټکي په لنډ ډول پرتله سوی دي (هیوادمل، ۱۳۸۵).
په ۲۰۱۵ع کال د زرداد جنډه خېل (بهرام شهزاده او ګل اندامه) منظومه کیسه له پېښوره خپره سوه، د دې کیسې د مقدمې په یوه برخه کي د زرداد جنډه خېل کیسه د فیاض له منظومې ترجمه سره ځای ځای مقایسه سوې ده.

زه په دې څېړنه کي د فیاض او زرداد جنډه خېل د ترجمه کړو کیسو، چي تر نورو بشپړي او پخوانۍ دي، متني او شکلي شننه او مقایسه کوم. لومړی دواړو متونو ته د متنپوهني له زاویې ګورم ورپسې ئې شکلي شننه او ارزونه کوم.

## مناقشه او موندني

د فياض او زرداد جنډه خېل د منظومو کيسي متني او شکلي شننه زموږ د څېړني اساسي موضوع ده، په دې برخه کې به د دواړو متنونو متني څرنگوالی او شکليات تر څېړنه لاندي ونيول سي، د څېړني په آخر کې به لوستونکو ته معلومه سي چي زموږ د دوو پخوانيو ناظمانو نظم کړې کيسې په متني او شکلي لحاظ يو له بله څومره توپير لري. لومړی به د دواړو کيسو متني شننه راځي ورپسې به ئې شکلي خوا مقايسه سي.

**د فياض د چاپ سوي کيسې متني کتنه:**

د فياض د کيسې مدون اروابناد خيال بخاري دئ، کيسه د پېښور د پښتو اکاډمۍ له خوا چاپ سوې ده. د چاپ کال نه لري. د اکاډمۍ پر چاپ سربېره د فياض کيسه نور چاپونه هم لري، په يوه بل بازاري چاپ کې چي د پېښور کتاب فروشانو حاجي عبدالخالق او فضل تر سره کړی دئ، فياض وايي چي دا کيسه ئې له فارسي څخه ترجمه کړې ده:

دا قصه وه په فارسي کښې ما پښتو کړه

د فياض وه دا قوت که ئې عيان

مگر مرحوم خيال بخاري د خپل ترتيب کړي متن په سريزه کې د کيسې د اصل په باب هيڅ اشاره نه لري، بله د يادوني وړ خبره دا ده چي دده په لاس تهيه سوی متن هغه غزل نه لري چي د دې کيسې د ترجمې يادونه پکښې راغلې ده. دا کيسه د کلاسيک متن په توگه د متنپوهني له نظره لاندي ځانگړتياوي او نيمگړتياوي لري:

**ځانگړتياوي:**

- متن له يوې قلمي او دوو چاپي نسخو له مخي برابر سوی دئ.
- پر متن سريزه ليکل سوې ده، که څه هم د ناظم او د متن د خطي او چاپي نسخو په باب پوره وضاحتونه نه لري.
- قلمي او چاپي نسخو ته ئې اختصاري علايم ټاکلي دي.
- د قلمي او چاپي نسخو نسخه بدلونو ته په لمن ليکونو کې اشارې سوي دي.

**نيمگړتياوي:**

- د متن سريزه د متنپوهني له اصولو سره برابره نه ده.

- قلمي او چاپي نسخې په بشپړ ډول معرفي سوي نه دي.
- متن ته لغتنامه نه ده ترتیب سوې.
- څېړونکي د خپل کار روش ښوولی نه دئ.
- که څه هم د دې متن په اصلاح کې د سمون التقاطي روش استفاده سوی دئ، مګر د دغه روش د اختیارولو دلایل ئې ښوولي نه دي.

**د زرداد جنډېه خېل د چاپ سوي کیسې متنې کره کتنه:**

د زرداد جنډېه خېل د بهرام شهزاده او ګل اندامې کیسه په ۲۰۱۵ع کال ډاکتر عبدالله جان عابد له پېښوره خپره کړه. کیسه له یوې قلمي نسخې څخه تدوین سوې ده. د سمون پر مهال له قیاسي روش څخه استفاده سوې ده. له دې روش څخه هغه مهال استفاده کېږي چې د متن واحده نسخه د څېړونکي په لاس کې وي.

**ځانګړتیاوې:**

- پر متن د متنپوهنې له اصولو سره برابره سریزه لیکل سوې ده.
- د متن قلمي نسخه په مفصل ډول معرفي سوې ده.
- څېړونکي خپل کاري روش ښوولی دئ.
- متن ته په پای کې مشرحه لغتنامه ترتیب سوې ده.
- په کتاب کې د اصلي متن د لومړیو او وروستیو صفحو عکسونه چاپ سوي دي.

**نیمګړتیا:**

- د ترجمه کړي متن اصلي منبع ښوول سوې نه ده یا ئې په اړه بحث سوی نه دئ.

***

په پورته دواړو متونو کې یوه خبره چې په یادولو ارزي دا ده چې د دواړو متونو مدونینو د کیسې اصل ښوولی نه دئ او نه ئې دا ویلي دي چې دا کیسه فیاض او زرداد جنډېه خېل له کومه کړه؟ د پورته پوښتني جواب دا دئ چې د بهرام او ګل اندامې کیسه په فارسي ادب کې پر نظم سربېره دوه واره په لنډ شکل په نثر لیکل سوې ده. د دواړو اختصار کوونکي معلوم نه دي. لومړی نثري ډول ئې په ۱۳۰۸ق کال د نصرالله خوانساري له خوا په سنګي چاپ په ایران کې چاپ سوی دئ (دری، طاهریان، ۱۴۰۳ش). د فیاض او زرداد د کیسې محتویاتو له پورتنۍ فارسي نثر کیسې سره

خوله په خوله دي، نو په غالب گومان ویل کېدای سي چي دواړو ناظمینو دي دغه نثري کیسه په نظم اړولې وي.
دوهمه په نثر لنډه سوې قصه هم د یوه نامعلوم چا له خوا ترتیب سوې ده، د دې قصې تحقیقي متن د دکتر نجمه دري او زهرا طاهریان له خوا ترتیب سو او د (صح) علمي مجلې د ۱۴۰۳ش کال په لومړۍ گڼه کي چاپ سوی دئ.

**د دواړو کیسو شکلي ارزونه:**

د دې څېړني دوهمه برخه د بهرام او گل اندامي د کیسې شکلي شنني ته ځانگړې سوې ده. په دې برخه کي غواړم د دواړو کیسو شکلیات مقایسه او توپیرونه ئې په لنډ ډول وړاندي کړم. په شکلي شننه کي پر دغو برخو بحث سوی دئ: پیل، پېښي، کرکټرونه، د نظم فورم، د بیتونو کمیت او داسي نور.

**فیاض:**

پیل: فیاض خپلي ترجمې ته مقدمه نه ده ایښې بلکي راساً په اصلي مطلب پیل کوي. که څه هم د فیاض کیسه د محتویاتو له مخي د زرداد جنډه خېل تر ترجمې بشپړه ده، خو دا زیاتوب ئې د واقعاتو په پراخوالي کي دئ.

**زرداد:**

پیل: زرداد د فیاض خلاف خپله ترجمه په حمد و ثنا پیلوي. تر هغه وروسته دوې غزلي د دنیا او عشق په باب لري.
تر پورته بیانونو وروسته اصلي مطلب ته راځي او د بهرام او گل اندامي کیسه پیلوي.

**فیاض:**

کرکټرونه: د فیاض ترجمه تر اصلي کرکټرونو ور ها خوا نسبت د زرداد ژباړې ته د کرکټرونو له مخي غني ده. د ځینو کرکټرونو دندې د زرداد له کیسې سره توپیر لري:
کشور (د بهرام پلار)، صیفور څلور ئې ورونه شماس، سمیل، کمیل، جیپور او یوه ئې خور سرآسیا.
روح افزا، افراد (دېب)، اورنگ د (چین دروازه وان)، دولتۍ (د گل اندامي مینځه)، شبرنگ او صالح د (کشور وزیران) گنجور (د فغفور وزیر، بهزاد (د بلغار شهزاده)، نوشاد (د بهزاد ورور).

**زرداد:**

کرکټرونه: د زرداد په کیسه کې تر بهرام او ګل اندامي، چې د کیسې اصلي کرکټرونه دي، نسبت د فیاض کیسې ته ئې کرکټرونه لږ دي. د ځینو کرکټرونو نومونه او دندې هم یو له بله توپیر لري: کشور (د بهرام پلار)، سیفور او ورونه ئې شماس او قماش، بدر (د چین لاربنود)، همت (د چین دروازه وان)، بهزاد (د بلغار شهزاده)، دولتي (د ګل اندامي مینځه)، بخت (د چین وزیر).

**فیاض:**

د نظم فورم: فیاض خپله ترجمه د غزل په فورم کې ویلې ده، البته ځیني غزلې ئې د بیتونو د زیاتوالي له مخې قصیده وشمه غزلي بللي کېدای سي. د کیسې په منځ کې چې کوم وخت د بهرام او ګل اندامي تر منځ مکاتبه کیږي د دغو مکاتباتو نظمي فورم ئې مثنوي دئ.

**زرداد:**

د نظم فورم: د زرداد د ترجمې نظمي فورم هم غزل دئ، په دې ترجمه کې هم ځیني غزلي د بیتونو د زیاتوالي له مخې د قصیده وشمه غزلو په ډول دي. په دې ترجمه کې هم د لیکونو د تبادلي محتویات په مثنوي وړاندي سوي دي.

**فیاض:**

د غزلو شمېر او د بیتونو کمیت: دا چې د فیاض په ترجمه کې د پېښو کمیت زیات او په تفصیل سره بیان سوي دي، نو ئې د بیتونو شمېر هم زیات دئ. فیاض د بهرام کیسه په ۹۳۲ بیتونو کې نظم کړې ده. دغه ۹۳۲ بیتونه ئې په ۳۶ غزلیاتو او مثنویاتو کې ځای پر ځای کړي دي.

**زرداد:**

د غزلو شمېر او د بیتونو کمیت: زرداد واقعات په لنډ ډول بیان کړي دي، ځای ځای ئې تر ځینو پېښو پښه اړولې ده. همدا علت دئ چې د ټولي ترجمې بیتونه ئې ۵۸۵ ته رسیږي. دغه بیتونه ئې په ۴۹ غزلو او مثنوي ګانو کې ترتیب کړي دي.

**د فیاض او زرداد د کیسې پېښې:**

د دواړو کیسو د واقعاتو تر منځ ځای ډېر ځای لږ توپیرونه لیدل کیږي، زه د نموني په ډول څو عمده تغیر سوو واقعاتو ته لنډې اشارې کوم:

د فیاض کیسه اوږده ده، په دې کیسه کې ځای ځای پېښې په تفصیل بیان سوي او کله ناکله ئې له ځانه اضافات هم پکښې کړي دي. د بهرام زوکړه د فیاض په کیسه کې د عالمانو او متقیانو د دعا برکت بلل سوی دئ.

د زرداد ترجمه نسبت فیاض ته لنډه ده، مګر د بهرام د زوکړې بیان ئې تر فیاض اوږد تصویر کړی دئ. د فقیرانو او خوارانو نازول، د دارو درملو استعمال، بالاخره یوه فقیر ته د ډوډۍ ورکړه. فقیر پادشاه ته وایي چې وغواړه څه غواړې؟ کشور د زوی لرلو ارمان ورته بیانوي. فقیر وایي خدای به زوی درکړي نوم ئې بهرام کښېږده.

فیاض د بهرام تر زوکړې وروسته د هغه د پاللو او تعلیم و تحصیل په باب مفصل بیانونه لري. په شپږ کلني کې مکتب ته ځي، شپږ کاله تعلیم حاصلوي، په دوولس کلني کې د غشیو ویشتلو، توري چلولو او نیزه بازۍ مهارتونه زده کوي، په پنځلس کلني کې د بهرام د دلاورۍ او شجاعت او پهلوانۍ اوازه په خلکو کې خپرېږي.

زرداد دا ټول بیانونه په لنډ ډول بیانوي. هیڅ ډول تفصیل نه لري.

***

د فیاض په کیسه کې د بهرام لومړۍ واقعه د زمري وژل دي چې د بهرام د دلاورۍ او شهسوارۍ پیلامه ګرځي. پاچا د دې کار په کولو سره ډېره خوشحاله کیږي او بهرام ډېر نازوي. دا واقعه د زرداد په کیسه کې بیخي یاده سوې نه ده.

***

کله چې بهرام د هوسۍ په ښکار پسې له خپلو ملګرو او لښکر څخه ورکیږي، د ده تر ورکېدو وروسته د ملګرو او لښکرو حالت د فیاض په کیسه کې نه دئ بیان سوی، لیکن زرداد د بهرام د ملګرو او لښکرو د واپسي غمجن تصویر وړاندي کړی دئ.

***

کله چې بهرام چین ته روان سي یو لوی سیند په مخه ورځي. د دغه سیند څخه د اوښتلو واقعه فیاض د یوه کاروان سره ملګرتیا بولي چې د هغوی په کښتۍ کې ورسره واووښت.

لیکن د زرداد په کیسه کې تر سیند اوښتل د یوه مرغه کارنامه بیان سوې ده، چې بهرام ئې تر سیند واړاوه.

***

فیاض د بلغار شهزاده تر مړیني وروسته د هغه د ورور نوشاد راتګ تصویر کړی او له بهرام سره ئې د مقابلې بیانونه کړي دي. زرداد دغه واقعه درواغ بللې ده، او دلیل ئې دا راوړی چې زما د کیسې په اصل کې بلغار شهزاده یکړ بلل سوی دئ، ځینو خلکو له ځانه د هغه د ورور بیانونه کړي دي. له دې څخه دا څرګ لګېږي چې د فیاض او زرداد جنده خپل د کیسو اصلي منبع توپیر لري، البته دا ځېړل زموږ د کنفرانس تر حوصله وتلې خبره ده.

***

د دې تر څنګ په دواړو ترجمو کې ځیني نور واقعات یو له بله توپیر سره لري خو ما د بحث د اوږدېدو په خاطر صرف نظر ځني وکړ.

## پایله

د دې څېړني په توسط خبر سوو چې په پښتو کې د بهرام او ګل اندامي د کیسې څو شکلونه موجود دي. له هغو څخه مو دوه نسبتاً بشپړ شکلونه د متني او شکلي شنني په موخه انتخاب کړل.
د دواړو متونو متني ځانګړتیاوي او نیمګړتیاوي مو د متنپوهنې د اصولو او قواعدو له مخې وارزولې. دغه ډول مو د بهرام او ګل اندامي د کیسې اصل معرفي کړ، چې پښتو ترجمه ځني سوې ده. د دواړو ترجمو په شکلي ارزونه کې مو د دواړو واقعاتي او کرداري توپیرونو تر څنګ د پیل، شعري فورم او ځینو نورو موضوعاتو په باب شکلي شننه تر سره کړه. د فیاض کیسه د محتوی په لحاظ د زرداد تر کیسي بشپړه ده، پېښي او کرکټرونه ئې زیات دي، په پیل کې له ځانه څه نه زیاتوي بلکي راساً په مقصد پیل کوي. زرداد برعکس د کیسې په پیل کې د حمد و ثنا تر څنګ د عشق په باب بیانونه کوي او وروسته اصلي کیسې ته راګرځي.
د فیاض د کیسې تهیه سوي متن ته د متن څېړني د اصولو له مخې ګوته نیول کېدای سي، زموږ د مناقشې او موندنو په برخه کې مو ټول هغه ځایونه وښوول چې د متني اصولو له مخې نیمګړتیاوي لري، کومې ځانګړتیاوي چې ئې لرلې هغه مو هم وښوولې. برعکس د زرداد جنده خپل د کیسې تهیه سوی متن د متنڅېړني د اصولو سره سم برابر سوی دئ، نو ویلای سو چې تر نیمګړتیاوو ئې د ځانګړتیاوو خوا درنه ده.

### سپارښتني:

- د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استادان دي د فولکلوري موادو راټولولو په موخه محصلینو ته کورنۍ دندې او سیمینارونه ورکړي.
- د پښتو شفاهي ادب ډېری چاپي کیسې دي له بازاري حالته د تحقیقي متن سویې ته لوړې سي.
- د پښتو د نورو فولکلوریکو آثارو متني او شکلي مقایسې دي تر سره سي.

## اخځلیکونه


بخاري، خیال. (؟)، د شهزاده بهرام او ګل اندامي مقدمه. پېښور: پښتو اکیډیمي.

بختاني، عبدالله. (۱۳۵٦ش). د کلید افغاني د تعلیقاتو برخه. کابل: پښتو ټولنه.

پتنګ، عبدالکریم. (۱۳۵۷ش). پښتو منظومې کیسې. کابل: پښتو ټولنه.

جنډه خېل، زرداد. (۲۰۱۵ع). بهرام شهزاده او ګل اندامه. پېښور.

حبیبي، عبدالحی. (۱۳۹۰ش). پښتانه شعراء (لومړی ټوک). کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

خلیل، مهین. (۱۳۸۵ش). رابعه او بکتاش (د زلمي هیوادمل په مقدمه). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

داوي، رحمت. (۱۳٦۰ش). لیلی او مجنون. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

دري، نجمه او طاهریان، زهرا. (۱۴۰۳ش). معرفي نسخه منثور نو یافته بهرام و ګلندام، مجله صح، تهران: دانشګاه تربیت مدرس.

دوست، دوست محمد. (۱۳۵۸ش). د سکندر د لیلی و مجنون مقدمه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

رشتین، صدیق الله. (۱۳۲۵ش). د پښتو ادب تاریخ. کابل: پښتو ټولنه.

عابد، عبدالله جان. (۲۰۱۵ع). بهرام شهزاده او ګل اندامه. پېښور.

فیاض. (؟) شهزاده بهرام او ګل اندامه. پېښور: میا عبدالخالق او فضل.

هاند، عبدالهادي. (۱۳٦۰ش). د رحمت د لیلی مجنون مقدمه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

هیوادمل، زلمی. (۱۳٦۵ش). فرهنګ ادبیات پښتو (جلد دوم). کابل: د علومو اکاډمي.

هیوز. (۱۳۵٦ش). کلید افغاني. کابل: پښتو ټولنه

Social Sceince
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# A Textual and Structural Analysis of Fayaz and Zardad in Bahram and Gul Andami

Associate Professor Matiullah Rohyal
Department of Pashto, Faculty of Languages and Literature, Kandahar University
*Corresponding Email:* mrohyal2013@gmail.com

## Abstract

'Bahram Shahzada and Gul Andama' is an interesting folktale of oriental literature. This tale is distinguished among oriental proverbs. It has been written and translated into many oriental languages both in the form of prose and poetry. There are different poetic translations of 'Bahram Shahzada and Gul Andama' in Pashto language. According to this study, there are ten forms of this folktale in Pashto language some of which are completely made into poetry and there are some versifiers and poets who have only made it abreacted. This study compares and analyses the texts and forms of two authentic and complete forms of the tale. The first form of this folktale is translated by Fayaz in the twelfth century and the second form of it is make into poetry by a poet, Zardad JandaKhiel, in the thirteenth century. Different aspects of both the texts of this tale are compared and analyzed based on modern methods and approaches. As a result, the merits and demerits of this folktale are analyzed. Besides, the forms of both these poetic tales are also analyzed in this study. Furthermore, the original language, translations, characters, plots, the quality of their contents, and other aspects are revealed in this study.

**Keywords:** Bahram and Gul Andama, Fayaz, Zardad, Text and Forms Analyses

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University


# Leed Social Science Academic Journal


Volume:1 Issue: 2 Year:2025